# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
| --- | --- |



لیکنه: حمیدالله بسیا

۲۸ مارچ ۲۰۲۵

# د کومیډین تراژیدي!

تاريخ د هغو مشرانو تل په ښو ټکو يادونه کوي چي په سوله ييزو لارو يې خپل هېوادونه او ملتونه د پرمختګ څوکو ته رسولي ، او تاريخ د هغو مشرانو کيسي هم لري چي د جګړې له کبله يې خپل ملتونه تباه کړی دي. د ۲۰۲۲ کال په فبرورۍ کي روسيه او اوکراين په جګړه کي ښکېل شول ، چي نه يوازې د دواړو هېوادونو لپاره، بلکي د نړۍ په کچه يې ستر بدلونونه رامنځته کړل.

ددې جګړې يو حيرانوونکی اړخ دا و چي د اوکراين مشر ولاديمير زلينسکي ، يو سياستوال نه، بلکي يو کوميډين و، چي په سياست کي يې هيڅ مخکينی بکګراونډ نه درلود. هغه په تلويزيوني نندارو کي د يو فرضي ولسمشر رول لوبولی و، خو ناڅاپه په حقيقت کي د هېواد او بيا د پيل کړې جګړې د مشرۍ موقف ته ورسېد.

ددې جګړې اوږدېدل، له اوکراين سره د امريکا او نورو هېوادونو بې باوره ملګرتيا، د اوکراين ويجاړۍ، د زيلينسکي ناسمه مشري، او د سولې له لاسه تللي فرصتونه دا ثابتوي چي دا يوه ستره تراژې او غميزه ده چي اوکرآين ته بې له ورانی، ويجاړۍ، جغرافيا له لاسه ورکولو، د ميليونونوخلکو له بې کوره کېدلو او په لسګونو زرو له وژل کېدو هيڅ هم په لاس ورنغلل.

اوکراين د روسيې لپاره يوازې يو ګاونډی نه و؛ بلکي تاريخي، کلتوري، او اقتصادي خورا ټينګې اړيکې يې لرلې. د شوروي اتحاد تر ړنګېدو وروسته، روسيې تل هڅه کړې وه چي اوکراين د خپل نفوذ په ساحه کي وساتي.

زيلينسکي د ولسمشرۍ له پيل راهيسې، پر ناټو او لوېديځ ملاتړ کلکه تکيه وکړه. روسيې څو ځله خبرداری ورکړ چي اوکراين دې د ناټو غړی نه شي، خو زيلينسکي دا خبرداری جدي ونه ګاڼه، د اوکراين په ختيځ کي د هغو سيمو د خلکو ځورول يې پيل کړل چي مورنۍ ژبه يې روسي وه او همدارنګه د ناټو او لويديځ پراخېدونکي نفوذ، او د اوکراين پرلپسې سرغړونو پوتين اړ کړ چي له دې ګاونډي هېواد سره په جګړه کي ښکېل شي .

د زلنسکي د مشرتابه ځيني نيمګړتياوې دادي چي د احساساتو پر بنسټ پرېکړې يې وکړې او کوي يې . جګړه چي پيل شوه، زلنسکي ته د ۲۰۲۲ کال په پسرلي کي د سولې د خبرو اترو فرصتونه برابر شول، خو هغه يو هم ونه منل. پر لوېديځ يې بې‌سارې اعتماد وکړ هغه فکر کاوه چي لوېديځ په مرسته به روسيه ماته کړي، خو لوېديځ يوازې محدود ملاتړ وکړ. د پوځ کمزورې مديريت، د سرتېرو او وسلو کمښت، او د عملياتو ناکامي د اوکرايني پوځ ضعف

ټکي وو. د اوکراین د پوځ که څه هم د ۲۰۲۲ په اوایلو کې، برياوې لرلې، خو وروسته روسیي خپله ستراتیژي بدله کړه، او د جګړې وضعیت بدل شو.

د جګړې له امله، د اوکراین اقتصاد سخت وځپل شو ، جي ډي پي یې ٪۳۰ راټیټه شوه، میلیونونه کاري فرصتونه له منځه ولاړل، صنعتي مرکزونه ویجاړ شول، نړیوال پانګوال د اوکراین له بازارونو ووتل ، میلیونونه اوکراینیان کډوال شول، د برېښنا شبکې ویجاړې شوې ، خلکو رواني ستونزې پیدا کړې ، جګړه اوږده شوه او ملت یې له اوږدمهاله بحران سره مخامخ کړ.

د جګړې له پیل څو میاشتې وروسته، روسیي او اوکراین د سولې خبرې اترې وکړې. د ترکیي، چین، او نورو هېوادونو هڅه دا وه چې جګړه پای ته ورسوي. روسیي د اوکراین د بې‌طرفۍ غوښتنه وکړه ، خو زلینسکي رد کړه. لوېديځ غوښتل جګړه اوږده شي، ځکه چې روسیه یې کمزورې کوله خو ددې جګړې دوام د اوکراین لپاره یوازې تباهي رامنځته کړه.

که زلینسکي له روسیي سره سوله کړې وای، ښایي اوکراین د جګړې له تباهۍ ژغورل شوی وای. صنعت، اقتصاد، او زیربناوې نه وای ویجاړې شوې. میلیونونه اوکراینیان به نه وای کډوال شوي. د هېواد راتلونکی به روښانه وای.

دا جګړه یوازې د سیاست، اقتصاد، او نړیوال ځواک پر سر جګړه نه وه، بلکې دا د اوکراین د ملت لپاره یوه نه ختمېدونکې تراژیدي وه. اوکرایني سرتېري خورا ستړي سرګردانه او ډېری وژل شوي او ټپیان شوي دي او اوس یې په ختیزو جبهو کې چې جګړه دوام لري، او د دې تراژیدي وروستۍ صحنې رواني دي د اوکراین پوځ له سختو ستونزو سره مخ دی، بشري قواه یې بیخي کمه شوې نظامي تجهیزات نه ورته رسېږی او سرتېري یې په ډول ډول رواني ناروغیو اخته دی ان دا چې د اوسني حکومت پر وړاندې د بغاوت غوښتنه کوي.

څو ورځې دمخه د اوکراین د ۹۵ مې هوایي برید لوا د ځانګړې قطعې قوماندان یوه ویډیو په ټیلګرام کې ښکته پورته کېدله او بیا پرې ځینو رسنیو راپورونه هم ولیکل چې په بې فایدې جګړې کې د داسې ښکلیتیا یادونه یې کوله چې نه ختمېدونکې ده.

دا ویډیو چې د ۹۵مې هوایي لوا د یو قوماندان لخوا جوړه شوې، نه یوازې غوارې له اوامرو سرغړونه وکړي، بلکې د هیواد د لوړ پوړو پوځي او سیاسي مشرانو په اړه هم د بې باورۍ یادونه کوي. د خپلې جنګي تجربې او د خپل هیواد د مبهم راتلونکي په اړه د اندېښنې په څرګندولو سربېره د لیشي په مستعار نامه دا قوماندان سرتیرو ته وایي چې د پوځي وسایلو د تخریب، د رسمي دندو په اجرا کې ضعف، د پرېکړو په ورو پلې کولو دې تمرکز وکړي او که یې لاس رسېږي تجهیزات او وسلې دې غیرفعاله کړي یاني په یو ډول سرتېري قسمي بغاوت ته هڅوي.

که چېرې دا خبرې ریښتیني وګڼل شي، نو د اوکراین د وسله والو ځواکونو دننه ژوره نارضایتی ښیي ځکه دې خبرو کې یوازې نیوکه نه ، بلکې د اوسني حکومت پر وړاندې د فعالو اقداماتو غوښتنه کېږي.

لیشي په نامه دا مستعار شخص چې د یو تجربه لرونکي قوماندان په توګه ځان په ویډیو کې ښکاره کوي، د مشرتابه لخوا د دوی د پلورلو او خیانت خبره کوي. هغوی زلینسکي له امریکا او روسیي سره په همکاري تورنوي او د زلینسکي او د هغه د حکومت پر وړاندې د عمل کولو لپاره د ۹۵مې لوا چمتووالی اعلانوي.

خو که دا ویډیو جعلي هم وي د بي بي سي او نورو رسنیو راپورنه دا په ګوته کوي چې د اوکراین د پوځ د مورال کمزوری شوی دی او داخلي خورا ستونزې لري.

او په جګړه کې ښکېل هېواد په دننه کې بل بغاوت هېواد لا د بې ثباته کولو خواته بیولی شي.

لنډه دا چې په ناټو، اروپا او امریکا او نورو زبرځواکونو تکیه کول د کمزورو هېوادونو لپاره یو ډاډ او ملاتړ نه دی، بلکې دا هېوادونه به تر هغو پورې چې خپلې ګټې یې خوندي وي په خوا کې ولاړ وي خو چې کله یې ومونډله چې نورې یې ګټې نه دي خوندي په هماغه ورځ یو سل او اتیا درجې تغییر کوي او په سپین میدان به یې خپل سیال ته پرېږدي چې تاسې یې اوکراین او امریکا تر منځ اړیکې د ښه مثال په توګه لیدلی شئ چې اوس پرې د فشار او زور له امله نور هغه څه هم مني چې امریکا یې غواړي او د قیمتي او نایابه معدني موادو پټو او استخراجولو ته یې زړه دی.